حبیب وقار ۲۰۰۹/۱۱/۰۱م

# په نړۍ کې د مسلمانانو شمېره د ډېرېدو په حال کې ده

دا ډېره د خوښۍ او نېکمرغۍ خبره ده چې نن ورځ د امریکایانو د احصاییې ټولنې هم دا خبره په ډاګه کوي، چې په نړۍ کې د مسلمانانو شمېره ورځ په ورځ د ډېرېدو په حال کې ده، دا ځکه چې په نړۍ کې اوس ډېرى پوهان او روڼ اندي د حقایقو په وړاندې کتنه کوي، هغوى نن دې خبرې ته پام اړولى چې دا څنګه کېداى شي چې څوارلس نیم سوه کلونه مخکې یو کتاب نازل شوى او تر اوسه پورې په کې هېڅ ډول بدلون نه لیدل کېږي، څه چې په هغې وخت کې په ګران پیغمبر حضرت محمد (ص) نازل شوې و، همغه نن ورځ هم په همغه ډول دي. هېڅ داسې یو بدلون نه لیدل کېږي چې په دې څوارلس سوه کلونو کې دې رامنځ ته شوى وي. سپېڅلى کتاب قرآن اوس هم هماغه توري لري اوس هم هماغه آیتونه لري کوم چې د لوى څښتن له خوا وحیې شوي و.

اوس د اسلام د دین ډېرو دښمنو ته په ډاګه شوې چې انجیل ولې ۲۸ کتابونه لري ولې هغه یوازنى انجیل چې په عیسى (ع) نازل شوى و اوس هغه ډول نه دى پاتې شوى او په څلورو رسمي او ۲۸ غیر رسمي انجیلونو بدل شوى. همدا لامل دى چې د انجیل پیروان ورځ په ورځ د اسلام د دین حقانیت ته رسېږي او له همدې امله ورځ په ورځ د مسلمانانو په شمېره کې ډېروالى راځي. په دې وروستیو کې د امریکایانو یوې ټولنې، چې د مسلمانانو چارو کارپوهان په کې کار کوي په خپل نوي راپور کې کاږي: په ګرده نړۍ کې د مسلمانانو شمېر ۱،۵۷ ملیاردو ته ورسېد، په بله مانا د نړۍ په کچه په هرو څلورو کسانو کې یو مسلمان دى. د دین او عام ژوند دغه امریکایي ټولنه وایي: دا راپور د نورو هغو په پرتله هر اړخیز دى او د هغو کسانو شمېرې یې هم را اخیستى دى، چې نوي مسلمانان شوي دي او د دوى دیموګرافي یا نقشه یې هم انځور کړې ده او په پاى کې یې له مسیحیانو سره پرتله کړي دي، چې اوس یې شمېر د ۲،۲-۲،۱ ملیاردو تر منځ دى.

په امریکا کې د پرنسټون د پوهنتون استاده آماني جمال وایي: دا راپور دا انګېرنه له منځه وړي، چې ګواښ به یې ویل مسلمانان عربان او عربان مسلمانان دي. له بل پلوه بریان ګریم، چې په همدغه موسسه کې د څېړونکو مشر دى سي ابن ان ته ویلي: چې د مسلمانانو د شمېر په اړه هېښ شوم نوموړى زیاتوي دا تر ټولو ستره شمېره ده پخواني اټکلي ارقام خو ۱،۸ ملیارډه شاوخوا و.

دا راپور، چې په دریو کلونو کې کښل شوى دى او (په نړۍ کې د مسلمانانو نقشه) نومېږي زیاتوي چې په المان کې د مسلمانانو شمېر له لبنان څخه ډېر دى همدارنګه په چین کې د مسلمانانو شمېر له سوریې څخه زیات دى او په روسیه کې د مسلمانانو شمېر د اردن او لیبیا له مسلمانانو زیات دى او په اتیوپیا کې د مسلمانانو شمېر د افغانستان له مسلمانانو سره برابر دى.

راپور همدارنګه زیاتوي: د مسلمانانو د ثقل مرکز منځنى ختیځ دى او د مسلمانانو ډېره برخه په اسیا کې مېشته ده دلته د نړۍ د مسلمانانو ٦۰ سلنه پرته ده او ۲۰ په سلو کې مسلمانان په منځني ختیځ او شمالي افریقا کې مېشت دي او ۱۵ په سلو کې د سویلي افریقا په هېوادونو کې او ۲،٤ په سلو کې په اروپا کې او ۰،۳ په سلو کې په شمالي او لاتیني امریکا کې ژوند کوي. راپور زیاتوي نږدې ۳۱۷ میلیونه مسلمانان (د نړۍ د مسلمانانو پنځمه برخه) په داسې هېوادو کې مېشت دي، چې مسلمانان یې اکثریت نه جوړوي. د مسلمانانو ۳،٤ برخه په پنځو داسې هېوادونو کې اوسېږي، چې هلته مسلمانان لږه کې دي لکه هندوستان (۱٦۱میلیونه مسلمانان ، اتیوپیا ۲۸ میلیونه مسلمانان، چین ۲۲ میلیونه مسلمانان ، روسیه ۱٦ میلیونه مسلمانان او تنزانیا ۱۳ میلیونه مسلمانان لري.

راپور وړاندې لیکي د نړۍ د مسلمانانو دریمه برخه په لسو هېوادونو کې اوسېږي شپږ یې په اسیا کې دي لکه (اندونیزیا، پاکستان، هندوستان، بنګلدېش، ایران او ترکیه) درې یې په شمالي افریقا کې دي لکه (مصر، الجزایر او المغرب) او یو یې په سویلي افریقا کې دى لکه ( نایجیریا). اندونیزیا د مسلمانانو د نفوس له کبله تر ټولوستر هېواد دى چې د مسلمانانو شمېر یې ۲۰۳ میلیونو ته رسېږي په بله مانا د ګردى نړۍ د مسلمانانو ۱۳په سلو کې جوړوي.

د راپور د معلوماتو له مخې په اروپا کې د مسلمانانو شمېر ۳۸ میلیونه دى، چې له ٤ میلونو زیات یې یوازې په المان کې استوګن دي د دې تر څنګ ٤،٦ په امریکا کې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په هرو لسو مسلمانانو کې يې (۹) سني مسلمانان دي او پاتې يو يې شيعه دی په ايران کې درېيمه برخه شيعه دي. چې داسې ده نو بايد چې ټول مسلمانان د اسلام د حقيقي بڼې په بلنې او دعوت کې په پوره توګه ونډه واخلي، څو يې هم خپل دين او خپل مذهب ته کار کړی وي او هم د لوی څښتن له اخروي نعمتونو څخه برخمن شوی وي. ځکه چې په اسلام کې دعوت او بلنه ډېر ارزښت لري.

د ۱۳۸۸ لمريز کال د لړم لومړی نېټه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ